د عامې روغتيا وزارت

# روغتيا اوونيزه

## پرليــکه خپـرونه

لومړی پړاو - دري ديرشمه گڼه

۱۴۴۷-۱۰-۲۲

- له ازبکستاني پلاوي سره د عامې روغتيا وزير ناسته!
- غزني ولايت ته د مالي او اداري چارو مرستيال سفر!
- د عامې روغتيا وزارت د رهبرۍ بورډ ۲۲ مې غونډې ترسره کېدل!
- کندوز ولايت کې د انتاني ناروغيو د 50 بستريز روغتون جوړېدل!
- د نيمروز ولايتي روغتون ته د 130 ميليونه افغانيو په ارزښت د طبي وسايلو ورکړه!

د وياندويۍ، اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست



## د عامې روغتيا وزارت د مالي او اداري چارو مرستيال، ښاغلي قاري عبدالولي صديقي او مل پلاوي د غزني حوزوي روغتون له خدماتو، نوي تعمير او د اکسيجن پلانټ له رغنيزو چارو څخه ليدنه تر سره کړه

د مالي او اداري چارو مرستيال، چې د غزني د عامې روغتيا رئيس ډاکټر رسول خان نظري يې هم ملتيا کوله، په ياد روغتون کې له رغنيزو چارو څخه د ليدنې پر مهال وويل: د دغه تعمير د رغنيزو چارو په بشپړېدو سره به د غزني او نږدې ولايتونو د اوسېدونکو ګڼ شمېر روغتيايي ستونزي حل، په معياري شکل به د ناروغانو د درملنې زمينه برابره او هم به د خدماتو کيفيت لوړ شي.

همدارنګه، ښاغلي مرستيال د غزني عامې روغتيا رياست او ياد روغتون مسؤلينو سره د امکاناتو برابرولو او شته ستونزو حل ژمنه وکړه.

## محترم قاری عبدالولی صدیقی معین مالی و اداری وزارت صحت‌عامه، و هیأت همراهش از ارایه خدمات، تعمیر جدید و روند ساخت دستگاه تولید آکسیجن شفاخانه حوزوی غزنی دیدار نمودند

محترم معین مالی و اداری که داکتر رسول‌خان نظری، رئیس صحت عامه غزنی نیز او را همراهی می‌کرد، هنگام بازدید از روند ساخت این تعمیر گفت: با تکمیل کارهای ساختمانی این تعمیر، بسیاری از مشکلات صحی باشنده‌گان غزنی و ولایات نزدیک حل خواهد شد، زمینه تداوی بیماران به شکل معیاری فراهم می‌گردد و کیفیت خدمات نیز بهبود خواهد یافت.

همچنان، محترم معین مالی و اداری با مسوولان ریاست صحت عامه غزنی و شفاخانه متذکره تعهد سپرد که در زمینه فراهم‌سازی امکانات و حل مشکلات موجود همکاری خواهد کرد.

## The Deputy Minister for Finance and Administration Affairs of the MoPH, Qari Abdul Wali Siddiqi, along with his delegation, visited Ghazni Provincial Hospital and reviewed its services, new building, and oxygen plant construction works.

The Deputy Minister for Finance and Administration, accompanied by Dr. Rasool Khan Nazari, Director of Public Health in Ghazni, said that the completion of the construction will help address many healthcare challenges in Ghazni and nearby provinces, ensure quality treatment, and improve the standard of healthcare services.

Similarly, the Deputy Minister assured the officials of the Ghazni Public Health Directorate and the hospital officials that he would provide the necessary facilities and address the existing challenges.




## در شفاخانه ولایتی ارزگان در سال گذشته 1404، حدود 14139 عملیات جراحی با موفقیت اجرا شده است

د یادو عملیاتونو له ډلې (1156) ستر عملیاتونه او (12983) واړه عملیاتونه دي، چې د مجربو، متخصصو او مسلکي ډاکټرانو له لوري ترسره شوي دي.

دا جراحي عملیاتونه د مسلکي اصولو او روغتیایي معیارونو په رعایت سره ترسره شوي، چې د یاد روغتون د تخنیکي او تخصصي ظرفیت څرګندونه کوي.

د یادونې وړ ده، چې په همدې موده کې (10577) تنه ناروغانو ته داخل بستر او (156736) تنه مراجعینو ته خارج بستر روغتیایي خدمات وړاندې شوي دي.

د دې روغتون ډاکټران د کاري تجربې، مسلکي تخصص او انساني ژمنتیا په لرلو سره تل هڅه کوي؛ څو ناروغانو ته معیاري، خوندي او پر وخت روغتیایي خدمات وړاندې او د روغتیایي خدمتونو د کیفیت ښه والي په موخه اغېزمن ګامونه پورته کړي.

از میان این عملیات های جراحی، 1156 عملیات بزرگ و 12983 عملیات کوچک توسط داکتران مجرب، متخصص و ورزیده اجرا گردیده است.

این عملیات های جراحی با رعایت اصول مسلکی و معیارهای صحی اجرا شده و بیانگر ظرفیت تخنیکی و تخصصی این شفاخانه می باشد.

قابل یادآوری است که در همین مدت، برای 10577 تن خدمات در بخش بستر و برای 156736 تن خدمات در بخش خارج بستر این شفاخانه برای مراجعین ارائه شده است.

داکتران این شفاخانه با داشتن تجربه کاری، تخصص مسلکی و تعهد انسانی، همواره در تلاش اند تا خدمات صحی معیاری، مصئون و به‌موقع را برای بیماران ارایه نمایند و در راستای بهبود کیفیت خدمات صحی گام‌های مؤثری بردارند.

**Over the past solar year 1404, approximately 14139 successful surgical operations were performed at Oruzgan Provincial Hospital.**

Of these procedures, 1156 were major and 12983 were minor, all of which were performed by experienced doctors.

These surgical operations were carried out in accordance with professional principles and healthcare standards, demonstrating the hospital's technical and specialized capacity.

During the same period, 10577 patients received inpatient services, while 156736 with outpatient healthcare services.

With their professional expertise, practical experience, and strong commitment, the hospital's doctors constantly strive to deliver standardized, safe, and timely healthcare services to patients and to take effective steps toward improving the quality of healthcare services.




## په کندز ولایت کې د انتاني ناروغیو درملنې 50 بستریز روغتون جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

د دغه روغتون پرانیسته د یو لړ مراسمو په ترڅ کې د یاد ولایت د مقام مرستیال، د امارتي ادارو یو شمېر رئیسانو، د ملي او نړیوالو بنسټونو استازو، متخصصینو، قومي مشرانو او د رسنیو استازو په شتون کې تر سره او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

ګډونوالو دا اقدام د روغتیایي خدمتونو ښه والي او خلکو ته د معیاري درملنې د لاسرسي زیاتوالي په برخه کې یو مهم ګام وباله او د دغه روغتیایي مرکز په جوړېدو یې خوښي څرګنده کړه.

همدارنګه، په دې مراسمو کې د کندز ولایت د مقام مرستیال د دې ولایت د عامې روغتیا رئیس، ډاکټر محمدالله حکمت له هڅو څخه ستاینه وکړه او د یاد روغتون پرانیسته یې د دغه ولایت اوسېدونکو لپاره یو مهمه لاسته راوړنه وبلله.

## یک شفاخانه 50 بستر انتانی در ولایت قندز افتتاح و به بهره‌برداری سپرده شد

این شفاخانه در حضور معاون مقام ولایت، رئیسان ادارات امارتی، مسوولان نهادهای ملی و بین‌المللی، داکتران متخصص، بزرگان قومی و نماینده‌گان رسانه‌ها در یک مراسم رسمی افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

اشتراک‌کننده‌گان این اقدام را گامی مهم در جهت بهبود خدمات صحی و افزایش دسترسی مردم به تداوی معیاری دانسته و از ایجاد این مرکز صحی ابراز خرسندی نمودند.

همچنان، در این مراسم، معاون مقام ولایت از تلاش‌های داکتر محمدالله حکمت، رئیس صحت‌عامه ولایت قندز، قدردانی نموده و افتتاح این شفاخانه را یک دستاورد مهم برای باشنده گان این ولایت عنوان کرد.

## 50-Bed Infectious Diseases Hospital Opens in Kunduz Province

The hospital was officially inaugurated and put into operation during a formal ceremony attended by the Deputy Governor, Directors of government departments, representatives of national and international organizations, specialist doctors, community elders, and members of the media.

Participants described the initiative as an important step toward improving healthcare services and increasing public access to quality treatment, and expressed their satisfaction with the establishment of the facility.

The Deputy Governor appreciated the efforts of Dr. Mohammadullah Hikmat, Director of Public Health in Kunduz, and described the opening of the hospital as a significant achievement for the province's residents.





## د تېرې شپې زلزلې له امله د ټپي شوي ماشوم له روغتیايي وضعیت څخه لیدنه تر سره شوه

## به اثر زلزله شب گذشته، از وضعیت صحی کودک زخمی شده دیداری صورت گرفت

د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د ځانګړې سپارښتنې پر اساس د دې وزارت د ویاندویې، اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس، ډاکټر شرافت زمان امرخېل او مل پلاوي اندراګاندي د ماشومانو درملنې ملي او تخصصي روغتون کې د کابل په ګوسفندرې سیمه کې د وروستۍ زلزلې له امله د یوازېني پاتې شوي یتیم ماشوم (آرش) له روغتیايي وضعیت څخه لیدنه وکړه.

یاد ماشوم چې نږدې درې کلن دی، د تېرې شپې زلزلې له امله یې د خپلې کورنۍ اته غړي، چې په کې والدین، خويندې او ورونه شامل وو، له لاسه ورکړي دي.

د عامې روغتیا وزارت مشرتابه د دې پېښې له امله ژوره خواشیني څرګنده کړې او روغتیايي کارکوونکو ته یې لارښوونه کړې، چې د یاد ماشوم د درملنې، پاملرنې او بشپړې رغېدنې لپاره لازم اقدامات ترسره کړي.

د عامې روغتیا وزارت یو ځل بیا ډاډ ورکوي، چې د طبیعي پېښو له امله زیانمنو شویو هېوادوالو ته به د روغتیايي خدمتونو په وړاندې کولو کې له هېڅ ډول هڅو دریغ ونه کړي.

به اساس هدایت ویژه محترم مولوی نور جلال جلالی وزیر صحت عامه، داکتر شرافت زمان امرخیل، رییس اطلاعات، ارتباط عامه و سخنگوی این وزارت و هیئآت همراهش، در شفاخانه ملی و تخصصی تداوی اطفال اندرا گاندی، از وضعیت صحی یگانه طفل یتیم باقی‌مانده از همه اعضای خانواده به نام (آرش) که در اثر زلزله اخیر در منطقه گوسفندره کابل آسیب دیده بود، دیدار نمودند.

این کودک که حدوداً سه سال عمر دارد، در نتیجه زلزله شب گذشته هشت تن از اعضای خانواده‌اش، به شمول والدین، خواهران و برادران خود را از دست داده است.

رهبری وزارت صحت عامه، از این رویداد ابراز تأسف عمیق نموده و به کارمندان صحی هدایت داده است تا برای تداوی، مراقبت و بهبودی کامل این طفل، اقدامات لازم را روی دست گیرند.

وزارت صحت عامه یک‌بار دیگر اطمینان می‌دهد، که در ارائه خدمات صحی به هموطنانی که در اثر حوادث طبیعی آسیب دیده اند، از هیچ‌گونه تلاش دریغ نخواهد کرد.

## Visit Conducted to Assess Condition of Child Injured in Last Night's Earthquake

Acting upon the special directive of the Minister of Public Health, Mawlawi Noor Jalal Jalali, a high-level delegation led by Dr. Sharafat Zaman Amarkhail, Director and Spokesperson of Information, and Public Relations, paid an official visit to Indira Gandhi Children's National and Specialized Hospital to evaluate the medical condition of Arash, the sole surviving orphan of last night's devastating earthquake in Kabul's Gosfand Darah area.

The child, aged approximately three, tragically lost eight members of his immediate family—including his parents and siblings—as a result of the earthquake.

The leadership of the Ministry of Public Health has expressed profound grief over the incident and has issued clear instructions to healthcare personnel to undertake all necessary measures to ensure the child receives comprehensive treatment, proper care, and a full recovery.

The Ministry further reaffirms its unwavering commitment to delivering essential healthcare services and extending full support to citizens affected by natural disasters.



## چارو ته پر ټاکلي وخت د رسېدنې په موخه د رهبرۍ بورډ دوه ویشتمه غونډه ترسره شوه

دا غونډه د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په مشرۍ د دې وزارت د مرستیالانو او مرکزي رئیسانو په شتون کې ترسره شوه، چې په ترڅ کې یې د یو شمېر مهمو موضوعاتو په اړه بحث او خبرې وشوې.

د دې غونډې په پیل کې ښاغلي وزیر د سېلاب ځپلو روغتیایي وضعیت ته د رسېدنې، د ادارو ترمنځ د همغږۍ او لازمو تدابیرو نیولو، د دولتي او خصوصي لابراتوارونو د معیاري کولو، په روغتونونو کې له شته تجهیزاتو څخه د اغېزمني ګټې اخیستنې او د پراختیایي پروژو د کاري بهیر چټکتیا په اړه خبرې وکړې او له اړوندو مسؤلینو یې وغوښتل، چې په دې برخو کې لازم اقدامات ترسره کړي.

سربېره پر دې، په دې غونډه کې د 1405 مالي کال د بودجې، د اداري اصولو او سلسله مراتبو د مراعت، د خصوصي روغتونونو د اعتبار ورکولو او درجه بندۍ پروګرام، د ادارو د اړتیاوو او تدارکاتي پلان چمتو کولو او نورو مهمو موضوعاتو په اړه هم خبرې وشوې.

همدارنګه، د غونډې په پای کې د وزارت مرستیالانو او مرکزي رئیسانو د چارو ښه والي په موخه خپل نظرونه او وړاندیزونه شریک کړل او ژمنه یې وکړه، چې د نیول شویو پرېکړو د تطبیق لپاره به لازم اقدامات ترسره کړي.



## نشست دور بیست و دوم بورد رهبری وزارت صحت عامه، به منظور رسیده گی به روند کاری این وزارت به وقت معین آن برگزار شد

این نشست تحت رهبری محترم مولوی نور جلال جلالی وزیر صحت‌عامه ا.ا.ا با حضور محترم معینان این وزارت و رییسان مرکزی وزارت صحت‌عامه برگزار گردید، که در آن موضوعات مهمی مطرح و روی آن بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

محترم وزیرصحت‌عامه، در نخست در مورد رسیده گی به وضعیت صحی سیلاب زده گان، هماهنگی و اتخاذ تدابیر لازم میان ادارات، معیاری سازی لابرتوارهای دولتی و خصوصی، استفاده موثر از تجهیزات موجود در شفاخانه و سرعت در روند کاری پروژه های انکشافی صحبت نموده و از مسوولان خواست تا در این راستا اقدامات لازم را انجام دهند.

علاوه بر آن در این نشست، در مورد بودجه سال 1405، مراعات نمودن اصول اداری و سلسله مراتب، برنامه اعتبار دهی و درجه بندی شفاخانه های خصوصی، تهیه پلان تداركاتی و نیازمندی ادارات و موضوعات مهمی دیگر نیز بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

همچنان در اخیر این نشست، محترم معینان و رییسان مرکزی وزارت صحت‌عامه، به‌منظور بهبود امور، نظریات و پیشنهادات خویش را در موارد ذکر شده شریک نموده و تعهد نمودند که در راستای تطبیق تصمیم‌های اتخاذشده، اقدامات لازم را انجام خواهند داد.

## Ministry of Public Health Holds 22nd Leadership Board Meeting to Review Progress

The meeting was chaired by Mawlawi Noor Jalal Jalali, Minister of Public Health, and attended by the ministry's deputies and central directors. During the session, a number of key issues were discussed.

At the outset, the Minister highlighted the health conditions of flood-affected communities, stressed the importance of coordination, and called for necessary measures to be taken. He also emphasized the need to standardize laboratories, optimize the use of hospital equipment, and expedite development projects, urging relevant officials to take prompt action.

The meeting also addressed several critical areas, including the 1405 fiscal year budget, adherence to administrative procedures and hierarchy, the accreditation and grading of private hospitals, the assessment of institutional needs, and the development of procurement plans, along with other priority issues.

At the conclusion, the ministry's deputies and central directors shared their insights and recommendations to enhance performance and committed to implementing the decisions made.



## په سرپل ولايت کې 17 ټنه له نېټې تېر او بې کيفيته خوراکي توکي او درمل له منځه يوړل شول

دغه توکي چې د عامې روغتيا رياست مسؤلينو له لوري د دې ولايت له بېلابېلو سيمو څخه راټول شوي وو، د اړوندو مسؤلينو په شتون کې له منځه يوړل شول.

د سرپل عامې روغتيا رياست مسؤلينو ټينګار وکړ چې په بازارونو کې به د خوراکي توکو پر کيفيت څارنه په دوامداره توګه روانه وي، څو خلکو ته د بې کيفيته توکو له وړاندې کولو څخه مخنيوی وشي.

## 17 تُن مواد غذایی و ادویهٔ تاریخ‌گذشته و بی‌کیفیت در ولایت سرپل از بین برده شد

این مواد که از سوی مسوولان ریاست صحت عامه از نواحی مختلف این ولایت جمع‌آوری شده بود، در حضور مسوولان مربوطه از بین برده شد.

مسوولان ریاست صحت ولایت سرپل عامه تأکید کردند که نظارت بر کیفیت مواد غذایی در بازارها به‌گونهٔ دوامدار ادامه خواهد داشت تا از عرضهٔ مواد بی‌کیفیت و مضر به شهروندان جلوگیری شود.

## 17 Tons of Expired and Substandard Food and Medicines Destroyed in Sar-e-Pol Province

The items, collected from various districts of the province by officials of the Public Health Directorate, were destroyed in the presence of the relevant authorities.

Officials of the Sar-e-Pol Public Health Directorate emphasized that monitoring the quality of food items in markets will continue on a sustained basis to prevent the distribution of substandard and harmful products to the public.












## در شفاخانه تخصصی و ثالثی رابعه بلخی در سال گذشته 1404، حدود 16540 عملیات جراحی با موفقیت اجرا شده است

د یادو عملیاتونو له ډلې (5900) ستر عملیاتونه او (10640) واړه عملیاتونه دي، چې د مجربو، متخصصو او مسلکي ډاکټرانو له لوري ترسره شوي دي.

دا جراحي عملیاتونه د مسلکي اصولو او روغتیایي معیارونو په رعایت سره ترسره شوي، چې د یاد روغتون د تخنیکي او تخصصي ظرفیت څرګندونه کوي.

د یادونې وړ ده، چې په همدې موده کې (42932) تنه ناروغانو ته داخل بستر او (129715) تنه مراجعینو ته خارج بستر روغتیایي خدمات وړاندې شوي دي.

از میان این عملیات های جراحی، 5900 عملیات بزرگ و 10640 عملیات کوچک توسط داکتران مجرب، متخصص و ورزیده اجرا گردیده است.

این عملیات های جراحی با رعایت اصول مسلکی و معیارهای صحی اجرا شده و بیانگر ظرفیت تخنیکی و تخصصی این شفاخانه می‌باشد.

قابل یادآوری است که در همین مدت، برای 42932 تن خدمات در بخش بستر و برای 129715 تن خدمات در بخش خارج بستراین شفاخانه برای مراجعین ارائه شده است.

**Over the past solar year 1404, approximately 16540 successful surgical operations were performed at Rabia Balkhi Hospital in Kabul.**

Of these procedures, 5900 were major and 10640 were minor, all of which were performed by experienced doctors.

These surgical operations were carried out in accordance with professional principles and healthcare standards, demonstrating the hospital's technical and specialized capacity.

It is noteworthy that during the same period, 42932 patients received inpatient services, while 129715 with outpatient healthcare services.





## د عامې روغتیا وزارت د روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني د غاښونو برخې له یو شمېر ډاکټرانو سره لیدنه ترسره کړه

په دې لیدنه کې چې د عامې روغتیا وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس شیخ محمد طاهر حلیم او د څارنې او پلټنې لوی رئیس ډاکټر عنایت الله عـــنایت هم شتون درلود، د غاښونو برخې ډاکټرانو لپاره د جوړې.

شوې لایحې د بیا کتنې اړوند بحث او خبرې تر سره شوې
په دې لایحې کې ځینې موارد شامل وو، چې د غاښونو ډاکټرانو یې د بیاکتنې او اصلاح غوښتنه کوله.

د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال د ډاکټرانو له لورې د مطرح شویو موضوعاتو د بیاکتنې لاربنوونه وکړه او ژمنه یې وکړه چې د دوی مشروع غوښتنو ته رسېدنه ترسره کړي.

سربېره پر دې، د مقام د دفتر لوی رئیس، شیخ محمد طاهر حلیم او د څارنې او پلټنې لوی رئیس، ډاکټر عنایت‌الله عنایت د ګډونوالو پوښتنو ته ځوابونه ورکړل او زیاته یې کړه، چې د عامې روغتیا وزارت رهبري د دوی د مشروع غوښتنو ملاتړ کوي.

## محترم مولوی عبدالولی حقانی معین عرضه خدمات صحی وزارت صحت‌عامه، با یک تعداد از داکتران دندان دیدار کرد

در این دیدار که شیخ محمد طاهر حلیم رییس عمومی دفتر مقام و داکترعنایت الله عنایت رییس عمومی نظارت و ارزیابی وزارت صحت‌عامه نیز حضور داشت، در مورد بازنگری لایحه ای که برای داکتران دندان تهیه شده است بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

در این لایحه که برای داکتران دندان تهیه شده است. بعضی مـواردی است که این داکتران خواهان بازنگری و اصلاح آن گردیدند.

معاون عرضه خدمات صحی، به بررسی موضوعات مطرح‌شده از سوی داکتران هدایت داد و تعهد سپرد که به خواسته‌های مشروع آنان رسیدگی خواهد کرد.

علاوه بر آن شیخ محمد طاهر حلیم رییس عمومی دفتر مقام و داکترعنایت الله عنایت رییس عمومی نظارت وارزیابی، به سوالات اشتراک کننده گان پاسخ داده افزودند که، رهبری وزارت صحت عامه از خواست های مشروع آنان حمایت می کند.

## The Deputy Minister for Health Services of the Ministry of Public Health, Mawlawi Abdul Wali Haqqani, met with several dentists.

The meeting was also attended by Sheikh Mohammad Tahir Halim, Chief of Staff of the MoPH, and Dr. Enayatullah Enayat, Director General of Monitoring and Inspection, where discussions were held on reviewing the draft regulation developed for dental doctors.

The draft included several provisions that the dentists requested to be reviewed and revised.

The Deputy Minister for the provision of health services instructed a review of the issues raised by the doctors and pledged to address their legitimate demands.

In addition, Sheikh Mohammad Tahir Halim, and Dr. Enayatullah Enayat, answered the participants' questions and stated that the leadership of the Ministry of Public Health supports their legitimate requests.




## د ا.ا.ا د عامې روغتیا وزیر، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د ازبکستان د درملو جوړونې او صنعت د پراختیا اداري له رئیس، عبدالله عزیزوف او مل پلاوي سره د یو شمېر مهمو روغتیايي موضوعاتو اړوند لیدنه وکړه

په دې لیدنه کې د درملو برخه کې د سوداګرۍ د پیاوړتیا او پراختیا، د درملنې په موخه ازبکستان ته د افغان ناروغانو د تګ لپاره د اسانتیاوو رامنځته کولو، بېلا بېلو برخو کې د روغتیايي کارکوونکو د ظرفیت لوړولو، د افغانستان او ازبکستان تر منځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک اړوند د عملیاتي پلان، په هېواد کې د درملو تولید برخه کې د پانګونې او د دواړو هېوادونو ترمنځ د لا زیاتې همغږۍ په اړه بحث او خبرې تر سره شوې.

د عامې روغتیا وزیر وویل:(د درملو د کیفیت تضمین، د معیاري خدمتونو وړاندې کول او د دواړو هېوادونو ترمنځ همغږي هغه مهم ټکي دي، چې باید جدي پاملرنه ورته وشي، څو خلکو ته غوره او باوري روغتیايي خدمتونه وړاندې شي.

ښاغلي وزیر زیاته کړه، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ دوامداره همکاري کولای شي د روغتیايي سیستمونو د پیاوړتیا ترڅنګ د خلکو اړتیاوو ته پر وخت او اغېزمن ځواب ووايي، هغه ټینګار وکړ، چې ګډې هڅې باید عملي بڼه خپله کړي او په دې برخه کې دې واضح پرمختګ وشي.

بل لور، د ازبکستان د درملو جوړونې او صنعت د پراختیا اداري رئیس د همکارۍ ډاډ څرګند او ویې ویل، هېواد یې چمتو دی چې افغانستان سره د درملو د تولید، صادراتو، د تخنیکي پوهې د لېږد او د روغتیايي کارکوونکو د ظرفیت لوړولو برخو کې همکاري وکړي.

## In his official office, Mawlawi Noor Jalal Jalali, Minister of Public Health of the IEA, met with Abdullah Azizov, Director of the Agency for the Development of the Pharmaceutical Industry, and his accompanying delegation to discuss a number of important health-related issues.

During the meeting, discussions focused on strengthening pharmaceutical trade, facilitating treatment opportunities for Afghan patients in Uzbekistan, and enhancing the capacity of healthcare workers. Both sides also reviewed the implementation plan of the memorandum of understanding between Afghanistan and Uzbekistan, along with investment in pharmaceutical production and improving coordination between the two countries.

The Minister of Public Health emphasized that ensuring the quality of medicines, providing standard healthcare services, and strengthening coordination between the two countries are key priorities to deliver quality and reliable healthcare to the people.

The Minister further noted that sustained cooperation between the two countries can help strengthen healthcare systems and ensure timely and effective responses to people’s needs. He stressed that joint efforts should be put into practice, with clear progress in this regard.

Abdullah Azizov also expressed commitment to cooperation, stating that his country is ready to support Afghanistan in pharmaceutical production, exports, knowledge transfer, and capacity building for healthcare workers.





## د عامي روغتيا وزارت د خوړو او درملو مرستيال، ښاغلي مولوي حمدالله زاهد د ازبکستان د درمل جوړوني او صنعت د پراختيا اداري له رئيس عبدالله عزيزوف او مل پلاوي سره ليدنه ترسره کړه

په دې ليدنه کې، چې د عامې روغتيا وزارت د خوړو او درملو مرستيال، د ازبکستان د درمل جوړوني او صنعت د پراختيا اداري رئيس، مل تخنيکي پلاوي او د درملو سکتور يو شمېر سوداګرو ګډون کړی و، د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګريزو اړيکو پر پياوړتيا او د تخنيکي او تنظيمي همکاريو په پراختيا ټينګار وشو او د افغانستان او ازبکستان ترمنځ د لاسليک شويو هوکړه ليکونو د عملي کولو او د درملو شرکتونو د ثبت (راجستريشن) بهير کې د اسانتياوو رامنځته کولو ژمنه وشوه.

همدارنګه په ياده ليدنه کې په افغانستان کې د ازبکستاني شرکتونو ثبت، د مناسب قيمت په بدل کې د باکيفيته درملو د وړاندې کېدو ډاډ، د ازبکستان د درملو صنعت د ظرفيتونو او پرمختګونو پېژندنې او د افغان متخصصينو د ظرفيت لوړوني په اړه هم بحث او خبرې ترسره شوې او ازبکستاني پلاوي د تخنيکي تجربو شريکولو، زده کړو او ظرفيت لوړوني برخه کې د همکارۍ لپاره خپل چمتووالی وښود.

## محترم معين غذا و ادويه وزارت صحت‌عامه ا.ا افغانستان با رئيس اداره توسعه صنعت دوايی کشور ازبکستان و هيات همراهش ، در تالار جلسات معينيت غذا و ادويه وزارت صحت‌عامه ديدار کرد


در اين ديدار، که محترم الحاج مولوی حمدالله زاهد، معين غذا و ادويه، محترم عبدالله عزيزوف رئيس اداره توسعه صنعت دوايی ازبکستان و هيأت تخنيکی همراهش و شماری از تاجران سکتور دوايی اشتراک داشتند، بر اهميت تحکيم روابط تجاری، توسعه همکاری‌های تخنيکی و تنظيمی ميان دو کشور تأکيد نموده و بر عملی‌سازی تفاهم‌نامه‌های امضا شده ميان افغانستان و ازبکستان و ،ايجاد سهولت‌ها در روند ثبت (راجستريشن) کمپنی‌های دوايی تعهد سپردند.


همچنان در اين نشست، موضوعات مهمی، از جمله ثبت کمپنی های ازبکستانی در افغانستان، اطمينان از عرضه ادويه باکيفيت با قيمت مناسب، معرفی ظرفيت‌ها و پيشرفت‌های صنعت دوايی ازبکستان، ارتقاء ظرفيت متخصصين افغان مورد بحث قرار گرفت که هيأت ازبکستانی نيز آماده گی خويش را برای شريک‌سازی تجارب تخنيکی و همکاری در بخش آموزش و انکشاف ظرفيت‌ها ابراز نمودند.

## The Deputy Minister for Food and Drugs of the Ministry of Public Health of the Islamic Emirate of Afghanistan held a meeting with the Head of the Pharmaceutical Industry Development Agency of Uzbekistan and his delegation in the conference hall of the Deputy Ministry for Food and Drugs.

The meeting was attended by Alhaj Mawlawi Hamdullah Zahid, Deputy Minister for Food and Drugs; Abdullah Azizov, Head of the Pharmaceutical Industry Development Agency of Uzbekistan; their technical team; and a number of representatives from the pharmaceutical sector. During the meeting, the participants discussed the importance of strengthening trade relations and expanding cooperation between the two countries. They also agreed to implement the memoranda of understanding and make efforts to facilitate the registration of pharmaceutical companies.

In addition, several key issues were discussed, including the registration of Uzbek pharmaceutical companies in Afghanistan, ensuring the availability of high-quality medicines at reasonable prices, and presenting the progress of Uzbekistan's pharmaceutical industry. The participants also emphasized the need to improve the capacity of Afghan specialists. The Uzbek delegation expressed their readiness to share technical experience and cooperate in training programs to support capacity building.






## د عامې روغتیا وزارت د داخلي تفتیش رئیس، مولوي محمد سلیم حقاني او مل تخنیکي ټیم هرات ته د سفر په ترخ کې د یاد ولایت له والي شیخ نور احمد اسلام جار سره لیدنه ترسره کړه

په دې لیدنه کې د روغتیایي خدماتو ښه والي او شته ستونزو د حل په اړه خبرې وشوې؛ د هرات والي شیخ نور احمد اسلام جار یاد پلاوي ته د هرکلي ترڅنګ ژمنه وکړه، چې ولایتي اداره به له مرکزي ادارې سره په ګډه د روغتیا برخې پیاوړتیا لپاره هلې ځلې کوي او زیاته یې کړه، د عامې روغتیا وزارت مسؤلینو دا ډول سفرونه د ستونزو د حل او اسانتیاوو رامنځته کېدو لپاره مهم دي.

دغه راز، د عامې روغتیا وزارت د داخلي تفتیش رئیس د هرات د والي له همکارۍ څخه مننه وکړه او ویې وویل، د روغتیایي خدماتو ښه والي په موخه به هر راز ستونزې په ګډه حلوي او هڅه کوي چې د هرات ولایت وضعیت ته په کتو روغتیا برخه کې د پام وړ بدلونونه راولي؛ څو خلکو ته لازمي اسانتیاوې رامنځته شي.

د یادونې وړ ده، چې یاد پلاوي د هرات د عامې روغتیا ریاست څخه هم لیدنه ترسره کړه، شته ستونزې یې په نښه او د حل په موخه یې له اړوندو مسؤلینو سره شریکې کړې؛ ترڅو د خدماتو کیفیت لا ښه او اغېزمن شي.

## مولوی محمد سلیم حقانی، رئیس تفتیش داخلی وزارت صحت عامه، همراه با تیم تخنیکی‌اش در جریان سفر به ولایت هرات، با شیخ نور احمد اسلام جار، والی این ولایت، دیدار کرد

در این دیدار، درباره بهبود خدمات صحی و حل مشکلات موجود گفتگو صورت گرفت. شیخ نور احمد اسلام‌جار، والی هرات، ضمن ابراز خوش‌آمدگویی به این هیأت، تعهد سپرد که اداره ولایتی در هماهنگی با اداره مرکزی برای تقویت بخش صحت تلاش خواهد کرد. وی افزود که چنین سفرهای مسوولان وزارت صحت عامه در حل مشکلات و ایجاد تسهیلات، مهم و مؤثر است.

همچنان، رئیس تفتیش داخلی وزارت صحت عامه از همکاری والی هرات قدردانی کرده و گفت که برای بهبود خدمات صحی، تمام مشکلات به‌صورت مشترک حل خواهد شد و تلاش می‌کنند با در نظر گرفتن وضعیت ولایت هرات، تغییرات قابل توجهی در بخش صحت ایجاد نمایند تا تسهیلات لازم برای مردم فراهم گردد.

قابل یادآوری است که این هیأت از ریاست صحت عامه هرات نیز دیدار کرده، مشکلات موجود را شناسایی و به‌منظور حل آن، با مسوولان مربوطه شریک ساختند تا کیفیت خدمات بیشتر بهبود یافته و مؤثرتر گردد.

## The Director of Internal Audit of the Ministry of Public Health, Mawlawi Mohammad Saleem Haqqani, paid a visit to Herat Province, along with his technical team, and held talks with Governor Sheikh Noor Ahmad Islam Jar.

Discussions focused on improving healthcare services and addressing existing challenges. Herat Governor Sheikh Noor Ahmad Islam Jar welcomed the delegation and assured close coordination with central authorities to strengthen the health sector, noting that such visits are important for resolving issues and improving services.

Haqqani said the ministry would work jointly with Herat provincial officials to address challenges and strengthen healthcare services, taking the province's specific conditions into account to ensure essential facilities reach the people.

The audit director and his technical team also inspected the Herat Directorate of Public Health, directing officials to deliver required services without delay.






## په مرکز کابل کې د افغانستان.ا.ا او ازبکستان هېواد ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو پیاوړتیا په موخه جوړه شوې ناسته د روغتیایي سکتور او امارتي مسؤلینو او د دواړو هېوادونو د سوداګرو په شتون کې ترسره شوه

**A meeting aimed at strengthening economic and trade cooperation between the Islamic Emirate of Afghanistan and the Republic of Uzbekistan was held in Kabul, with the participation of health sector officials, government representatives, and businessmen from both countries.**

په دې ناسته کې دواړو لورو د اقتصادي اړیکو پر پراختیا، د دوه اړخیزې سوداګرۍ برخه کې پر اسانتیا او د درمل جوړونې (د درملو صنعت) برخه کې د همکاریو پر پراختیا ټینګار وکړ او دا چاره یې د ځان بسیاینې، روغتیایي خدماتو ښه والي او اقتصادي ودې لپاره مهم ګام وباله.

Both sides emphasized expanding economic ties, facilitating bilateral trade, and enhancing cooperation in the pharmaceutical sector, describing it as a key step toward self-reliance, improved healthcare services, and economic growth.

د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو مرستیال، ښاغلي مولوي حمدالله زاهد دغه ناسته د ګډو همکاریو پراختیا لپاره مهم فرصت وباله او د پانګونې د ملاتړ او سوداګرو ته د اسانتیاوو رامنځته کولو برخه کې یې د افغانستان.ا.ا پر ژمنتیا ټینګار وکړ.

The Deputy Minister of Public Health for Food and Drugs, Mawlawi Hamdullah Zahid, described the meeting as an important opportunity to expand cooperation, and reaffirmed the commitment of the Islamic Emirate of Afghanistan to support investment and facilitate business for traders.

همدارنګه، د ازبکستان د درمل جوړونې او صنعت د پراختیا اداري رئیس عبدالله عزیزوف له افغانستان سره د هر اړخیزو همکاریو برخه کې د خپل هېواد چمتووالی، په ځانګړې ډول د درمل جوړونې برخه کې اعلان کړ.

Abdullah Azizov, Director of the Agency for the Development of the Pharmaceutical Industry, also announced his country's readiness for comprehensive cooperation with Afghanistan, particularly in the field of pharmaceutical manufacturing.

په پای کې، د دواړو هېوادونو د درملو سوداګرو ترمنځ د څه باندې 25 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت 13 سوداګریز قراردادونه لاسلیک شول، چې د افغانستان او ازبکستان ترمنځ د اقتصادي همکاریو پیاوړتیا برخه کې مهم ګام بلل کیږي.

In the end, 13 commercial agreements worth over $25 million were signed between pharmaceutical traders from both countries, marking an important step toward strengthening economic cooperation between Afghanistan and Uzbekistan.








## د نیمروز ولایتي روغتون ته د نږدې 130 میلیونه افغانیو په ارزښت مهم عصري طبي تجهیزات واخیستل شول

د نیمروز نوي ولایتي روغتون د تعمیر جوړېدنې او پرانیستې وروسته، د عامې روغتیا وزیر ښاغلي مولوي نور جلال جلالي په دوامداره هڅو او د سعودي د یو خیرخواه اوسیدونکي شیخ عبدالله بن ال ثاني په مرسته د 130 میلیونه افغانیو په ارزښت دې روغتون ته طبي تجهیزات واخیستل شول.

دا پرمختللي تجهیزات، چې په کې سي ټي سکین، ام آر آی او نور وسایل شامل دي، په نږدې راتلونکي کې به په یاد روغتون کې ترې ګټه واخیستل شي او د نیمروز اوسیدونکو ته به د روغتیایي خدماتو پراخوالي زمینه برابره کړي.

د یادونې وړ ده، چې په دې وروستیو کې په افغان جاپان او د انتاني ناروغیو درملنې ملي او تخصصي روغتونونو کې هم د سي ټي سکین درلودونکو د راډیولوژۍ مرکزونو خدمات پیل کړي دي.

## به ارزش نزدیک به 130 میلیون افغانی تجهیزات مهم و مدرن طبی برای شفاخانه ولایتی نیمروز خریداری شد

پس از ساخت و افتتاح شفاخانه جدید ولایتی نیمروز، محترم مولوی نور جلال جلالی وزیر صحت‌عامه، با تلاش‌های دوامدار و همکاری شیخ عبدالله بن آل ثانی، خیير عربستانی، یک تعداد تجهیزات طبی را به ارزش 130 میلیون افغانی برای این شفاخانه خریداری کرد.

این تجهیزات پیشرفته، که شامل سی‌تی اسکن، ام آرآی و سایر وسایل می‌باشد، در آینده نزدیک در ارائه خدمات شفاخانه مورد استفاده قرار خواهند گرفت و زمینه گسترش خدمات صحی برای ساکنان نیمروز را فراهم می‌سازند.

قابل یادآوری است که اخیراً در شفاخانه‌های افغان-جاپان و تخصصی انتانی نیز خدمات مراکز رادیولوژی با دستگاه‌های سی‌تی اسکن آغاز شده است.

## Advanced medical equipment worth around 130 million Afghanis has been procured to Nimroz Provincial Hospital.

The equipment valued at 130 million Afghanis was procured following the completion and inauguration of the hospital's new building. The Minister of Public Health, Mawlawi Noor Jalal Jalali, secured the support with the help of a Saudi donor, Sheikh Abdullah bin Al Thani.

The newly supplied equipment includes CT scan, MRI, and other modern medical devices. The equipment is expected to become operational soon, which will help expand healthcare services and improve access to treatment for residents of Nimroz.

Meanwhile, radiology centers equipped with CT scan technology have recently begun providing services at the Afghan-Japan Hospital and the Infectious Diseases Specialized Hospital.







## ننګرهار کې د 35 روغتیایي مرکزونو واکسیناتورانو ته موټرسایکلونه ورکړل شول

دغه موټرسایکلونه چې یونیسف ادارې له لوري مرسته شوي وو، د یو شمېر مسؤلینو په شتون کې واکسیناتورانو ته ووېشل شول؛ څو د واکسینونو پوښښ پراخ او په لرې پرتو سیمو کې مور او ماشوم ته پر وخت واکسین ورسېږي.

د ننګرهار مرستیال والي مولوي غلام الرحمن حیدري لرې پرتو سیمو ته د واکسینونو او نورو خدماتو رسول اړین وبلل او واکسیناتورانو ته یې سپارښتنه وکړه، چې له دې وسیلې څخه د واکسینونو په رسولو کې اغېزمنه ګټه واخلي. نوموړي وویل، په لرې پرتو سیمو کې ډېری خلک لومړنیو روغتیایي خدماتو ته اړتیا لري او ډاډ یې ورکړ چې د اړونده ادارو په همکارۍ به ورته لازمه پاملرنه وشي.

همدارنګه، د ننګرهار عامې روغتیا رئیس مولوي امین الله شریف وویل، په لرې پرتو سیمو کې به د روغتیایي خدماتو پیاوړتیا لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوي؛ څو په یادو سیمو کې د واکسینونو پوښښ او نور روغتیایي خدمات پراخ او د خلکو روغتیايي ستونزې حل شي.

## در ولایت ننگرهار به واکسیناتوران 35 مرکز صحی موترسایکل توزیع گردید

این موترسایکل‌ها که از سوی اداره یونیسف کمک شده بود، با حضور شماری از مسوولان به واکسیناتوران توزیع شد تا پوشش واکسین گسترش یافته و واکسین به‌موقع به مادران و کودکان در مناطق دوردست برسد.

مولوی غلام‌الرحمن حیدری، معاون والی ننگرهار، رساندن واکسین ها و سایر خدمات صحی به مناطق دورافتاده را ضروری دانسته و به واکسیناتوران توصیه کرد که از این وسایل در انتقال واکسین‌ها به گونه مؤثر استفاده نمایند. وی گفت که در مناطق دوردست، بسیاری از مردم به خدمات اولیه صحی نیاز دارند و اطمینان داد که با همکاری ادارات مربوطه، توجه لازم به این بخش صورت خواهد گرفت.

همچنان، مولوی امین‌الله شریف، رئیس صحت عامه ننگرهار، گفت که برای تقویت خدمات صحی در مناطق دوردست به تلاش‌های خود ادامه خواهند داد تا پوشش واکسین و سایر خدمات صحی در این مناطق گسترش یافته و مشکلات صحی مردم کاهش یابد.

## Motorcycles Distributed to Vaccinators at 35 Health Centers in Nangarhar

The motorcycles, donated by UNICEF, were distributed to vaccinators in the presence of several officials to help expand vaccination coverage and ensure timely immunization for mothers and children in remote areas.

Nangarhar Deputy Governor Mawlawi Ghulam Rahman Haidari stressed the importance of reaching remote areas with vaccination and other health services, urging vaccinators to make effective use of the motorcycles. He added that many people in these areas need basic healthcare and assured that necessary attention would be provided in coordination with relevant authorities.

Nangarhar Public Health Director Mawlawi Aminullah Sharif said that efforts to strengthen healthcare services in remote areas will continue to expand vaccination coverage and other health services, helping address the people's health challenges.




## د يو ملي سوداګر له لوري د نیمروز ولایت زرنج ښار حوزوي روغتون سره د 20 زره امریکایي ډالرو په ارزښت د طبي تجهيزاتو او وسایلو مرسته وشوه

یاد ملي سوداګر ګل احمد نور زاد د روغتیایي سکتور ملاتړ او اهمیت ته په اشارې وویل، چې دغه ډول مرستې به په فراه او کندهار ولایتونو کې هم دوام ولري.

همدارنګه، د یاد روغتون رئیس ډاکټر عبدالحکیم رسولي د ملي سوداګر له مرستې څخه د مننې تر څنګ وویل، دا مرسته به په دې روغتون کې د ډېرو ناروغانو اړتیاوې پوره کړي.

## یک تاجر ملی، به ارزش 20 هزار دالر امریکایی تجهیزات و لوازم طبی را به شفاخانه حوزه‌ی شهر زرنج ولایت نیمروز کمک کرد

گل احمد نورزاد یک تن از تاجران ملی، با اشاره به اهمیت و حمایت از سکتور صحی، اعلام کرد که کمک‌های مشابه در ولایات فراه و قندهار نیز ادامه خواهد یافت.

همچنان، داکتر عبدالحکیم رسولی، رئیس این شفاخانه، از این اقدام ابراز قدردانی نموده گفت: که این کمک، بخش زیادی از نیازمندی‌های این مرکز را رفع خواهد کرد.

## National Businessman Donates $20,000 Worth of Medical Equipment to Zaranj Provincial Hospital

The national businessman, Gul Ahmad Norzad, highlighted the importance of supporting the healthcare sector, stating that such assistance will continue in other provinces, including Farah and Kandahar.

The hospital director, Dr. Abdul Hakim Rasooli, expressed gratitude to the national businessman for his support, stating that the donation will help meet many of the patients' needs at the hospital.












## په تېر 1404 هـ ش کال کې د پکتیکا ولایتي روغتون کې شاوخوا (5851) بریالي جراحي عملیاتونه ترسره شوي دي

د یادو عملیاتونو له ډلي (2926) ستر عملیاتونه او (2925) واړه عملیاتونه دي، چې د مجربو، متخصصو او مسلکي ډاکټرانو له لوري ترسره شوي دي.

دا جراحي عملیاتونه د مسلکي اصولو او روغتیایي معیارونو په رعایت سره ترسره شوي، چې د یاد روغتون د تخنیکي او تخصصي ظرفیت خرګندونه کوي.

د یادوني وړ ده، چې په همدې موده کې (15884) تنه ناروغانو ته داخل بستر او (273924) تنه مراجعینو ته خارج بستر روغتیایي خدمات وړاندې شوي دي.

## در شفاخانه ولایتی پکتیکا در سال گذشته 1404، حدود 5851 عملیات جراحی با موفقیت اجرا شده است

از میان این عملیات های جراحی، 2926 عملیات بزرگ و 2925 عملیات کوچک توسط داکتران مجرب، متخصص و ورزیده اجرا گردیده است.
این عملیات های جراحی با رعایت اصول مسلکی و معیارهای صحی اجرا شده و بیانگر ظرفیت تخنیکی و تخصصی این شفاخانه می‌باشد.

قابل یادآوری است که در همین مدت، برای 15884 تن خدمات در بخش بستر و برای 273924 تن خدمات در بخش خارج بستر این شفاخانه برای مراجعین ارائه شده است.

**Over the past solar year 1404, approximately 5851 successful surgical operations were performed at Paktika Provincial Hospital.**

Of these procedures, 2926 were major and 2925 were minor, all of which were performed by experienced doctors.

These surgical operations were carried out in accordance with professional principles and healthcare standards, demonstrating the hospital's technical and specialized capacity.

It is noteworthy that during the same period, 15884 patients received inpatient services, while 273924 with outpatient healthcare services.




## په تېر 1404 هـ ش کال کې، د بلخ ولایت په درېیو روغتونونو کې د 1229 تنو روږدو کسانو درملنه شوې ده

د بلخ عامې روغتیا ریاست وایي، په یاده موده کې د 776 تنو روږدو درملنه په سل بستریز، 105 تنو روږدو درملنه د ځوانانو په خلوېښت بستریز او 348 تنو روږدو درملنه په پنځوس بستریز روغتون کې ترسره شوې ده.

د دې خدمتونو ترڅنګ په پراخه کچه د عامه پوهاوي پروګرامونه او غونډې هم ترسره شوې دي، چې له امله یې په بلخ کې د روږدو شمېر تر ډېره کم شوی دی

## در سال گذشته 1404 هجری شمسی، در سه شفاخانه ولایت بلخ مجموعاً 1229 تن افراد معتاد تحت تداوی قرار گرفته‌است


ریاست صحت‌عامه ولایت بلخ اعلام کرد که، در این مدت، 776 تن در شفاخانه صد بستر، 105 تن در شفاخانه چهل بستر جوانان و 348 تن در شفاخانه پنجاه بستر تداوی شده‌اند.

در کنار این خدمات تداوی، برنامه‌ها و نشست‌های آگاهی‌دهی عامه نیز به‌گونه گسترده برگزار شده است که در نتیجه، شمار افراد معتاد در ولایت بلخ تا حد زیادی کاهش یافته است

## Over the past solar year 1404, a total of 1,229 drug addicts were treated in three hospitals in Balkh Province

The Public Health Directorate of Balkh province states that during this period, treatment was provided to 776 addicts in the 100-bed hospital, 105 addicts in the 40-bed youth hospital, and 348 addicts in the 50-bed hospital.

In addition to these services, extensive public awareness programs and meetings have also been conducted, contributing significantly to a reduction in the number of addicts in Balkh province





## د عامې روغتيا وزارت د ولايتونو د روغتيا همغږۍ رئيس، ډاکټر فضل الهي عليزي د کندز، تخار، سرپل، جوزجان، سمنگان، بلخ، فارياب، بدخشان او بغلان ولايتونو د عامې روغتيا له مسوولينو سره انلاين غونډه ترسره کړه

د غونډې موخه د مرکزي رياست او ولايتي ادارو ترمنځ د همغږۍ پياوړتيا، د شته ستونزو ارزونه او په ولايتي کچه د روغتيايي پروگرامونو د ښه پلي کېدو او پر وخت اجرااتو لپاره د لازمو تدابيرو نيول وو.
په ياده غونډه کې پر وخت او اغېزمنو اجرااتو لپار د فوکل پاينټ په توگه د يو تن ټاکل، له مرکز سره د عامې روغتيا رياستونو د PHC غونډو د پرېکړو شريکولو، د اداري سلسلې مراعتولو، د لېږل شويو مکتوبونو پر وخت ځوابولو او يو شمېر نورو موضوعاتو په اړه خبرې وشوې.
دغه راز، د يادو ولايتونو د عامې روغتيا مسوولينو د ادارو ترمنځ د همکارۍ او همغږۍ پر پياوړتيا ټينگار وکړ او زياته يې کړه، چې دا کار به د روغتيايي خدماتو په ښه والي او د ستونزو په چټک حل کې مهم رول ولوبوي.

## داکتر فضل‌الهی علیزی رئیس هماهنگی صحت ولایات وزارت صحت‌عامه، در یک نشست آنلاین با مسوولان صحت‌عامه ولایت های قندز، تخار، سرپل، جوزجان، سمنگان، بلخ، فاریاب، بدخشان و بغلان دیدار کرد

هدف از این دیدار، تقویت هماهنگی میان ریاست مرکزی و ادارات ولایتی، بررسی چالش‌های موجود و اتخاذ تدابیر لازم برای بهبود تطبیق برنامه‌های صحی در سطح ولایات و اجراات به موقع بود.
در این نشست در مورد موضوعات ذیل از جمله، تعیین یک تن به حیث فوکل پاینت به خاطر اجراات به موقع و بهتر، شریک نمودن ریاست های صحت‌عامه با مرکز، PHC مینوت نشست مجلس مراعات نمودن سلسله مراتب، جواب مکاتیب ارسال شده به وقت معین آن و موارد یگر بحث صورت گرفت.
که مسوولان صحت‌عامه این ولایات بر تقویت همکاری و افزایش هماهنگی میان ادارات صحی تاکید نمودند که این امر برای بهتر شدن خدمات صحی و حل سریع‌تر مشکلات کمک زیادی خواهد کرد.

**The Director of Provincial Health Coordination of the Ministry of Public Health, Dr. Fazal Elahi Alizai, held an online meeting with public health officials from Kunduz, Takhar, Sar-e-Pol, Jawzjan, Samangan, Balkh, Faryab, Badakhshan, and Baghlan provinces.**

The meeting aimed to strengthen coordination between central and provincial health offices, assess existing challenges, and ensure the effective and timely implementation of health programs at the provincial level.

During the meeting, participants discussed appointing a focal point for timely and effective implementation, sharing PHC decisions between provincial directorates and the central level, adhering to the administrative chain of command, and responding promptly to official correspondence.

Public health officials from the mentioned provinces also emphasized strengthening cooperation and coordination among institutions, noting that this would play an important role in improving health services and ensuring the swift resolution of challenges.



## د عامې روغتیا وزارت د داخلي تفتیش رئیس، مولوي محمد سلیم حقاني هرات ولایت ته د سفر په ترڅ کې د دغه ولایت د درملو پلورونکو اتحادیې له رهبرۍ پلاوي سره لیدنه وکړه

په دې لیدنه کې د درملو پلورونکو د شته ستونزو د حل، په ځانګړې توګه د جواز ورکولو، د درملیزو خدمتونو وړاندې کولو او د عامې روغتیا وزارت د قوانینو د تطبیق په اړه بحث او خبرې وشوې.

همدارنګه، په دې لیدنه کې د اتحادیې غړو د درملو د تولید او وارداتو برخو کې د سوداګرو ستونزې او ننګونې مطرح کړې.

په پای کې دواړو لورو خلکو ته د باکیفیته او مناسب قیمت لرونکو روغتیایي خدمتونو پر وړاندې کولو ټینګار وکړ او د عامې روغتیا وزارت پلاوي ژمنه وکړه، چې د قوانینو په چوکاټ کې به لازمې همکارۍ ترسره کړي.

## مولوی محمد سلیم حقانی، رئیس تفتیش داخلی وزارت صحت‌عامه، در جریان سفرش به ولایت هرات با هیأت رهبری اتحادیه دوا فروشان این ولایت دیدار کرد

در این دیدار، در مورد حل مشکلات موجود در بخش دوا فروشان، به‌ویژه موضوعات مربوط به جوازدهی، عرضه خدمات دوایی و تطبیق قوانین وزارت صحت‌عامه بحث صورت گرفت.

همچنان، در این دیدار اعضای اتحادیه مشکلات و چالش‌های تاجران ادویه را نیز در بخش تولید، واردات و سایر عرصه‌ها مطرح نمودند.

در پایان، هر دو جانب بر بهبود عرضه خدمات صحی با کیفیت و قیمت مناسب برای مردم تأکید نموده و هیئآت وزارت صحت عامه وعده سپرد تا در چارچوب قوانین، همکاری لازم را انجام دهد.

## During his official visit to Herat province, the Director of Internal Audit of the Ministry of Public Health, Mawlawi Mohammad Saleem Haqqani, met with the leadership of the Herat Pharmaceutical Union.

During the meeting, participants discussed addressing key challenges faced by pharmaceutical sellers, particularly in licensing, the provision of pharmaceutical services, and the proper implementation of the Ministry of Public Health's regulations.

Furthermore, during the meeting, members of the association raised concerns and challenges faced by traders in the production and import of medicines.

In conclusion, both sides emphasized the provision of quality healthcare services at affordable prices, while the MoPH delegation pledged to provide necessary support within the framework of the law.






## A three-day workshop to review the activities of the Routine Immunization Program for the 2025 (solar year) has been held in the northern zone.

The program, led by the Director of Afghanistan's National Expanded Program on Immunization (NEPI), Dr. Abdul Hakim Hemat, was launched on 17 Hamal 1405 (Solar Hijri) in the presence of NEPI managers, technical staff from Balkh, Sar-e-Pol, Jawzjan, and Samangan provinces, as well as representatives of partner organizations, and continued for three days.

During the workshop, activities from the 2025 solar year were reviewed, including immunization coverage, service quality, data analysis, cold chain management, outreach to remote areas, coordination among partners, and identification of key gaps and challenges.

Dr. Abdul Hakim Hemat emphasized that all staff and officials should align their work with the principles and regulations of the Islamic Emirate of Afghanistan, as well as the national health policy and vaccination strategy.

Such workshops have previously been held in different regions of the country, where emphasis was placed on evidence-based planning, capacity building of healthcare workers, effective monitoring and evaluation, improved vaccine logistics management, and better coordination among different levels of the health system.

Participants also shared their experiences, views, and suggestions aimed at strengthening the immunization system, improving service quality, and ensuring equitable and comprehensive coverage for all children in need.

Dr. Abdul Hakim Hemat further stated that, in light of the existing challenges, a structured plan (RI Roadmap) should be developed for routine services to address the current issues in 2026, and provincial officials will be responsible for its implementation.

## په شمالي حوزه کې د 2025 هـ ش کال د روټین کتلوي معافیت پروګرام د فعالیتونو بیاکتنې درې ورځنۍ ورکشاپ تر سره شو

دغه پروګرام د افغانستان د کتلوي معافیت رئیس ډاکټر عبدالحکیم همت په مشرۍ د بلخ، سرپل، جوزجان او سمنګان ولایتونو د کتلوي معافیت مدیرانو، تخنیکي کارکوونکو او د همکارو بنسټونو د استازو په شتون کې د 1405 هـ ش کال د حمل په 17مه نېټه پیل شوی و او درې ورځې یې دوام وکړ.

په یاد ورکشاپ کې د 2025 هـ ش کال د ترسره شویو فعالیتونو هر اړخیزه بیاکتنه ترسره شوه، چې په کې د معافیت د پوښښ کچې تحلیل، د واکسیناسیون خدمتونو کیفیت، د ارقامو تحلیل، د ساړه ځنځیر (Cold Chain) مدیریت، لرې پرتو سیمو ته رسېدنه، د راپور ورکولو سیستم پیاوړتیا، د کاري شریکانو ترمنځ همغږي، د مهمو شاخصونو ارزونه او د موجودو تشو او ستونزو پېژندنه شامل وو.

د کتلوي معافیت رئیس ډاکټر عبدالحکیم همت ټینګار وکړ، چې ټول مسؤلین او کارکوونکي باید د ا.ا.ا د اصولو او قواعدو په نظر کې نیولو سره، د روغتیا ملي پالیسۍ او د واکسیناسیون ملي ستراتیژۍ په رڼا کې خپلې چارې تنظیم کړي.

دغه ډول ورکشاپونه مخکې له دې هم د هېواد په بېلابېلو زونونو کې تر سره شوي دي، چې په کې د شواهدو پر بنسټ د پلان جوړونې پر ښه والي، د روغتیایي کارکوونکو پر ظرفیت لوړونه، اغېزمنه څارنه او ارزونه، د واکسینونو لوژستیکي مدیریت او د روغتیایي سیستم د بېلابېلو کچو ترمنځ پر غوره همغږۍ ټینګار شو.

همدارنګه، د ورکشاپ ګډونوالو خپلې تجربې، نظریات او د کتلوي معافیت سیستم د پیاوړتیا، د خدمتونو د کیفیت ښه والي او ټولو اړمنو ماشومانو ته د عادلانه او سراسري پوښښ د تأمین په موخه خپل وړاندیزونه او نظرونه شریک کړل.

سربېره پر دې، ډاکټر عبدالحکیم همت په خپلو خبرو کې زیاته کړه، چې د شته ستونزو او ننګونو په پام کې نیولو سره باید د روټین خدماتو لپاره یوه منظمه نقشه (RI Roadmap) جوړه شي؛ څو په 2026 کال کې موجودو ستونزو ته جدي رسېدنه وشي او د ولایتونو مسؤلین به یې د پلي کولو لپاره مکلف وي.





# د عامې روغتيا وزارت د نړيوالو اړيکو، مرستو د همغږۍ او انسجام رياست او د UNHCR نړيوالې ادارې مسؤلينو ترمنځ د 15 عمومي روغتيايي مرکزونو د سپارلو په موخه ناسته ترسره شوه

# A meeting was held between officials from the Ministry of Public Health's Directorate of International Relations and Aid Coordination, and the UNHCR to hand over 15 comprehensive health centers.

دغه روغتيايي مرکزونه، چې UNHCR نړيوالې ادارې له لوري جوړ شوي، روغتيا وزارت ته يې د سپارلو په اړه پر يو شمېر تخنيکي موضوعاتو بحث او خبرې تر سره شوې؛ له دې مرکزونه څخه به د 11 روغتيايي مرکزونو لپاره د UNHCR ادارې له لوري طبي او غير طبي تجهيزات هم تدارک کېږي.

د عامې روغتيا وزارت د نړيوالو اړيکو، مرستو د همغږۍ او انسجام رئيس مولوي محمد داوود منصوري د UNHCR ادارې له استازو څخه د مننې تر څنګ وويل، دغه مرکزونه د روغتيايي خدمتونو د پراختيا او ورته د عامو خلکو د لاسرسي ښه والي برخه کې يو مهم او اغېزناک ګام دی او تينګار يې وکړ، چې ياد روغتيايي مرکزونه دې ژر تر ژره عامې روغتيا وزارت ته تسليم او فعاليتونه دې پيل کړي؛ څو عام ولس ترې پر وخت لازمه ګټه واخلي.

نوموړي زياته کړه، دغو روغتيايي مرکزونو ته دې معياري تجهيزات وپېرل شي او هم دې په بشپړ دقت او پاملرنې د انتقال او نصب چارې ترسره شي؛ څو د خدماتو کيفيت تضمين شي.

ورته مهال، د UNHCR ادارې استازو د عامې روغتيا وزارت له اغېزمنې همغږۍ او همکارۍ څخه مننه وکړه او ويې ويل: موږ ټول 20 روغتيايي مرکزونه جوړ کړي، چې له دې يې 5 روغتيايي مرکزونه مخکې له مخکې روغتيا وزارت ته سپارل شوي او پاتې 15 روغتيايي مرکزونه به په نږدې راتلونکې کې ورته وسپارل شي او د يادو مرکزونه له ډلې د 11 روغتيايي مرکزونه څخه د هر يو مرکز لپاره د شاوخوا 200،000 امريکايي ډالرو په ارزښت طبي او غير طبي تجهيزات هم برابر شوي دي.

During the meeting, technical discussions were held on the handover of these health centers, which were constructed by the UNHCR, to the Ministry of Public Health. It was also noted that the organization will provide medical and non-medical equipment for 11 of the centers.

The Director of International Relations and Aid Coordination of the Ministry of Public Health, Mawlawi Mohammad Dawood Mansoori, thanked the UNHCR and said the centers will improve healthcare access. He urged their swift handover so services can begin and benefit the public.

He added that standard equipment should be procured for these health centers and that the transfer and installation process must be carried out with full care and precision to ensure the quality of services.

Meanwhile, representatives of the UNHCR thanked the MoPH for its effective coordination and cooperation. They stated that a total of 20 health centers have been constructed, of which 5 have already been handed over, while the remaining 15 will be transferred in the near future. They added that 11 of these centers will each be equipped with medical and non-medical supplies worth around $200,000.





## د عامې روغتیا وزارت د عامه تغذیې ریاست له لوري د مور او ماشوم د تغذیې ملي لارښود د بیاکتنې او نوي کولو په موخه دوه ورځنۍ تخنیکي ورکشاپ ترسره شو

دغه ورکشاپ چې موخه یې د مور او ماشوم د تغذیې برخه کې د موجود ملي لارښود هر اړخیزه تخنیکي بیاکتنه، نوي کول او د نړیوالو شواهدو پر بنسټ د وروستیو سپارښتنو، په ځانګړې توګه د روغتیا نړیوال سازمان سره همغږي کول وو؛ په کې د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدلولي حقاني، د عامه تغذیې رئیس ډاکټر حکمت الله معصومي او اړوندو ملي او نړیوالو شریکانو ګډون کړی ؤ.

دغه بهیر د هېواد د موجوده شرایطو، تطبیقي ننګونو او د خدمتونو د وړاندې کولو له واقعي وضعیت سره سم تر سره کېږي؛ ترڅو یو معیاري، عملي او د تطبیق وړ لارښود چمتو شي، چې د ټولو روغتیایي کارکوونکو، په ځانګړي ډول د لومړۍ کرښې د خدماتو وړاندې کوونکو لپاره د باور وړ تخنیکي مرجع وګرځي.

د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، د دغه نوښت ارزښت ته په اشارې وویل: د مور او ماشوم د تغذیې د ملي لارښود بیاکتنه او معیاري کول د عامه تغذیې په سکټور کې یو بنسټیز او ستراتیژیک پرمختګ بلل کېږي.

همدارنګه، د عامه تغذیې رئیس ډاکټر حکمت الله معصومي وویل: د عامه تغذیې ریاست او همکارو تخنیکي ادارو د ګډو مسلکي هڅو په پایله کې به نوی لارښود د خدماتو د کیفیت لوړولو، د تطبیق یو شانوالي او د شواهدو پر بنسټ د مداخلو پیاوړتیا لپاره یو مهم تخنیکي سند وي.

نوموړي زیاته کړه، چې دغه لارښود به د ډاکټرانو، نرسانو، قابلو او د تغذیې پروګرام د مدیرانو لپاره د عملي تطبیق یو اغېزمنه وسیله وګرځي؛ څو د هېواد په کچه د تغذیې خدمات د ملي معیارونو سره سم وړاندې شي.

د یادونې وړ ده، چې د مور او ماشوم د تغذیې موجود ملي لارښود د وروستي ځل لپاره په 2019م کال کې بیاکتل شوی و، خو د نړیوالو نویو لارښوونو او د تطبیقي تجربو پر بنسټ، ځینې مهمې تخنیکي تشې په کې موجودې وې، چې له ډلې یې مهم موارد په لاندې ډول دي.

## The Public Nutrition Directorate of the Ministry of Public Health has conducted a two-day technical workshop to review and update the national guidelines on maternal and child nutrition.

The workshop, aimed at conducting a comprehensive technical review and updating of the national guidelines on maternal and child nutrition in line with the latest evidence and recommendations—particularly in coordination with the World Health Organization—was attended by the Deputy Minister for Health Services, Mawlawi Abdul Wali Haqqani: Director of Public Nutrition Dr. Hikmatullah Masoomi, and relevant national and international partners.

The process is being conducted in line with the country's current conditions and service delivery challenges, aiming to produce a practical and standardized guideline for healthcare workers, especially frontline providers.

Mawlawi Abdul Wali Haqqani highlighted the importance of the initiative, stating that the review and standardization of the national guideline on maternal and child nutrition is a fundamental and strategic step in the public nutrition sector.

Dr. Hikmatullah Masoomi said the new guideline, developed through joint efforts with technical partners, will improve service quality, ensure consistent implementation, and strengthen evidence-based interventions. He added it will serve as a practical tool for healthcare workers to deliver nutrition services in line with national standards.

It is worth noting that the national guideline on maternal and child nutrition was last revised in 2019. However, based on updated international guidance and practical experience, it had key gaps, including a life cycle approach to nutrition, adolescent nutrition, integration of early childhood development (ECD), and a structured SBCC framework.



## د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو معینیت له لوري د کابل ولایت په ګزک سیمه کې 4921 کیلو ګرامه له نېټې تېر او بې کیفیته خوراکي توکي له منځه یوووړل شول

دغه توکي د لابراتواري ازموینو په پایلو کې منفي تثبیت شوي، چې د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو معینیت د خوراکي توکو تاسیساتو د څارنې امریت مسؤلینو له لوري د کابل ولایت په بېلا بېلو ناحیو کې راټول شوي وو او د خوړو او درملو معینیت او کابل ښاروالۍ د تنظیف ریاست د استازو په شتون کې له منځه یوووړل شول.

## معینیت غذا و ادویه وزارت صحت عامه، 4921 کیلوگرام مواد خوراکی بی‌کیفیت و تاریخ‌گذشته را در ساحه گزک ولایت کابل از بین برد

این مواد خوراکی که تاریخ مصرف آن‌ها گذشته و بر اساس نتایج آزمایش‌های لابراتواری نیز غیرقابل استفاده تشخیص شده بودند، توسط مسوولان آمریت نظارت از تأسیسات مواد خوراکی مربوط معینیت غذا و ادویه وزارت صحت عامه، از نواحی مختلف شهر کابل جمع‌آوری شده بود و در حضور نمایندگان معینیت غذا و ادویه و ریاست تنظیف شاروالی کابل از بین برده شد.

## The Deputy Minister's Office for Food and Drugs of the MoPH has destroyed 4,921 kilograms of expired and substandard food items in the Gazak area of Kabul Province.

Expired food items, confirmed as non-compliant through laboratory tests, were collected from various districts of Kabul by the Food Establishments Inspection Department under the Deputy Minister's Office for Food and Drugs and destroyed in the presence of its representatives and Kabul Municipality officials.











## د اصلاحاتو، بازار تنظیم او د کورنیو تولیداتو پیاوړتیا په موخه د خوړو او درملو معینیت د رهبرۍ ناسته ترسره شوه

دغه ناسته د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو معینیت د اداري شورا، د دې معینیت د رهبرۍ، د بېلابېلو برخو رئیسانو او مشاورینو په شتون کې د هېواد د خوړو او درملو سکتور د فعالیتونو ښه والي، د یو شمېر مهمو موضوعاتو د څېړلو او لازمو پرېکړو کولو په موخه ترسره شوه.

په دې ناسته کې د 1404هـ ش کال د فعالیتونو د پرمختګ راپور، د کاري پروسو ډیجیټل کول او د بېلابېلو برخو د اجرااتو ارزونه ترسره شوه. همدارنګه د رهبرۍ د فرمانونو او لارښوونو پر پلي کېدو، په ځانګړې ډول د بهرنیو اصطلاحاتو پر ځای د اداري بدیلو اصطلاحاتو کارولو او د سیستمونو پر ښه والي ټینګار وشو.

سربېره پر دې، د درملو د وارداتو اړوند ستونزې، په ځانګړي ډول هغه پاکستاني درمل چې بند پاتې دي، وڅېړل شوې او په دې برخه کې د لازمو تدابیرو پر نیولو بحث ترسره شو، چې د واردوونکو لپاره د اسانتیاوو برابرول، د احتکار مخنیوی او په بازار کې د بیو تنظیم هم د دې ناستې له مهمو موضوعاتو څخه وو.

همدارنګه، د تولید برخه کې د خوړو او درملو د کورنیو تولیداتو د ودې لپاره پر حمایوي طرحو او طرزالعملونو، د فابریکو ترمنځ پر واټن، د تولیدي تاسیساتو د جوړېدو لپاره د معیارونو پر ټاکلو او د تولیدي شرکتونو ستونزو ته پر رسېدنې تمرکز وشو. دغه راز، د صنعتي پارکونو د جوړېدو لپاره د ځمکې وېش او په دې برخه کې د پانګونې ملاتړ هم وارزول شو.

د ناستې پر دوام د لابراتوارونو ظرفیت لوړول، د کیفیت کنټرول لابراتوارونو لپاره د پرمختللو تجهیزاتو پېرودل او د کنټرول سیستمونو ښه والی او یو شمېر نور موضوعات هم تر بحث لاندې ونیول شول.

په پای کې د خوړو او درملو معینیت رهبرۍ د اړوندو څانګو ترمنځ پر لا ډېرې همغږۍ، د اجرآتو پر چټکتیا او د خلکو لپاره د خوندي او معیاري درملو او خوړو پر برابرولو ټینګار وکړ او اړوندو مسؤلینو ته یې لازمې لارښوونې وکړې.



## نشست رهبری معینیت غذا و ادویه با محوریت اصلاحات، تنظیم بازار و تقویت تولیدات داخلی برگزار شد

نشست شورای اداری معینیت غذا و ادویه وزارت صحت‌عامه، با حضور رهبری این معینیت، روسای بخش‌های مختلف و مشاورین این معینیت، به‌منظور بررسی موضوعات کلیدی و اتخاذ تصامیم لازم در راستای بهبود عملکرد سکتور غذا و ادویه در کشور، برگزار گردید.

در این نشست، گزارش پیشرفت فعالیت‌ها در سال 1404، دیجیتل سازی پروسه های کاری، و ارزیابی اجراآت بخش‌های مختلف مورد بحث قرار گرفت. همچنان روی تطبیق فرامین و رهنمودهای رهبری، به‌ویژه در زمینه جا گزینی اصطلاحات بدیل اداری به عوض اصطلاحات بیگانه و بهبود سیستم‌ها، تأکید صورت گرفت.

علاوه بر آن، بررسی چالش‌ها و مشکلات مرتبط با واردات ادویه، به خصوص ادویه‌های پاکستانی معطل‌شده، و اتخاذ تدابیر لازم در این بخش، ایجاد تسهیلات برای واردکننده گان، جلوگیری از احتکار و تنظیم قیمت‌ها در بازار از جملات موضوعاتی بود که در این نشست مورد بحث قرار گرفت.

در بخش تولید، روی طرح‌ها و طرزالعمل‌های حمایوی جهت رُشد تولیدات داخلی دوا و غذا، فاصله میان فابریکه‌ها، تعیین معیارهای لازم برای ایجاد تأسیسات تولیدی و رسیده گی به مشکلات شرکت های تولیدی تمرکز صورت گرفت. همچنان موضوع توزیع زمین برای ایجاد پارک‌های صنعتی دوا و حمایت از سرمایه‌گذاری در این بخش نیز بررسی گردید.

در ادامه، موضوعات تخنیکی، از جمله ارتقاء ظرفیت لابراتوارها، خریداری تجهیزات پیشرفته برای لابراتوار کنترول کیفیت و بهبود سیستم‌های کنترولی مورد توجه قرار گرفت.

در پایان، رهبری معینیت غذا و ادویه بر هماهنگی بیشتر میان بخش ها، تسریع در روند اجراآت، و تعهد به تأمین ادویه و مواد غذایی مصئون و معیاری برای شهروندان تأکید نموده و هدایات لازم را به مسئولان مربوطه سپرد.